# د دیر زنانه شاعرانې

# Poetesses of Dir

Amir Zada [1]

In a patriarchic society, it is worth pride when we listen about woman factor securing her deserved position instead of reserved. Dir, a mountainous valley in the north has been remained backward due to reasons. The geo-social perspective has influenced a lot the life and way of life of the residents of this very valley. The social and literary standards of the people have remained manipulated though out. It adds to our belief in evolution when we come to explore the role of female in language and literature. In this paper, I will highlight the role of the poetesses of Dir who have contributed in Pashto literature. The poetry created by these poetesses has a lot about the indigenous behavior, culture and socio-political meanings of the valley. This paper is a simple step forward to open a door to the wider research on the role of the daughters of these mountains in various fields of life.

دیر د خیبر پښتونخوا په پنځویشت ضلعو کښې په دوؤ ضلعو کښې مشتمله علاقه ده چې په جغرافیائي لحاظ ۳۸ ، ۳٤ عرض بلد شمالي او ۲۲ ، ۷۲ طول بلد مشرقي د صوبې شمالي طرفته پرته ده ـ د دیر شمالي اړخ ته د ضلع چترال علاقه قشقار، قبلې طرفته د باجوړ ایجنسي او افغانستان جنوب اړخ ته د ملاکنډ ایجنسي حصار ، طوطه کان او تانه پراتهٔ دي ـ هر کله چې نمر خاتهٔ طرفته د سوات شموزو او ملاکې علاقې پرتې دي ـ دیر خپل یو زوړ تاریخ او اهم جغرافیائي محل وقوع او یو پیږندلے نوم لري ـ کښې قامونه او تهذیبونه ئې لیدلي کتلي دي ـ او د هغوي اهم نخښې نښانې ئې خوندي کړې دي ـ په دغه تاریخ کښې د دیر نوابي دور د زور ظلم داستانونه هم ثبت دي او دغه دور د خلقو د بد بختۍ او غریبۍ او مجبورۍ احوال هم لري ـ

کاسه د نوابي استبداد واوخته په بله
که شپه هر څو اوږده وي خو سبا پسې راځي 1

1 PhD Research scholar Pashto department University of Peshawar

په کال ۱۹۶۷ء کښې دیر ریاست په موجوده خېبر پښتونخوا کښې ضم کړے شو ـ او د صوبې ضلع اوګرځولې شوه ـ دغه شان په کال ۱۹۹۶ء کښې دا ضلع په دوؤ برخو کښې تقسیم شوه ـ او په ضلع بر دیر او ضلع کوز دیر د سرکار په کاغذونو کښې محفوظ کړے شوه ـ

د پښتو د شعر او ادب د تاریخ اوراق که اوګتے شي نو د نارینه لیکوالو سره سره زنانه لیکوالو هم وخت د سره د پښتو ادب د ناوې په سنګار کښې ښۀ پوره برخه اخستې ده ـ د نظم او نثر په مېدانونو کښې ئې د سرو سره یو رنګ هلې ځلې کړې دي ـ د الف جانه خټکه نه واخلې د نن ورځې جدیدې لیکونکې حسینه ګل تنها او دغسې څو نورو زنانوؤ لیکوالو د خپل تخلیقي قواؤ په برکت د پښتو ادب جولۍ د بې بها ملغلرو څخه برجقه کړې ده ـ که په سیمه ایزه توګه مونږ د زنانوؤ لیکوالو کار او زیار ته اوګورو نو د پښتونخوا هېڅ یو سیمه به داسې نۀ وي چې د هغې خاورې زنانوؤ قلمکارو د پښتو ژبې او ادب په سر څنه کښې اساسي رول نۀ وے لوبولے ـ د پښتو نخوا د نورو سیمو په شمول د دیر علم خېزه زمکې هم داسې زنانه لیکوالې زېږولې دي چې د هغوي د فکر و تخلیق په عالمانه او شاعرانه ورشوګانو د رابرسېره شوؤ پسرلو په سبب د پښتو ادب د باغ و بڼ ښکلاګانې تر هر سیمې د شعر و سخن د پسرولو نه یو په دوه ښکلې او سپېځلې دي ـ

د دیر په داسې زنانوؤ لیکوالو کښې د کریمن بي بي ، بي بي زیتون ، سیده لیلی جېلاني ، سائره شمس ګلان ، ن م رڼا او نیلم ارزو نومونه په خاص توګه د ذکر وړ دي ـ په مجموعي توګه د دوي په شاعرۍ کښې د رومانیت سره سره د تصوف پند و نصیحت او د اخلاقیاتو په هره موضوع ښۀ معیاري شعرونه موندے شي ـ په تصوف کښې د وجود او شهود په فلسفه ئې داسې ګټور علمي شعرونه وئیلي دي چې په فکري او علمي هر څنګه وزن ډېر درانۀ دي ـ لکه د کریمن بي بي دا شعرونه:

ساقي راکړه یوه پیاله په ځنکدن کښې
چې مې تلونکے روح ایسار شي په بدن کښې

چې نظر مې لاړ شي هغه لامکان ته
که دا لږ ساعت مې تېر شي په دیدن کښې

ارمانونو مې ځيګر سوے سکارۀ کړۀ
دا زخمي زړۀ به مې يوسم په کفن کښې 2

د پښتو ژبې چې څومره شاعران يا شاعرانې تېرې شوې دي ـ هغوي ټولو په خپل خپل ډول د اخلاقو او پند و نصيحت تعليم ورکړے دے ـ لکه رحمان بابا چې د اخلاقياتو يو لوے مبلغ دے هغه د بدانو رذيلانو سره د ناستې پاستې نه د ځان ژغورنې نصيحت کړے دے ـ وائي

مصرئ توره هم بد غلاف کښې زنګ شي
خدايه څوک مۀ کړه د بدانو همنشين ۳

په دغه ډول د دير د سيمې کريمن بي بي د بدانو نه د ځان ژغورنې په حقله ځائے په ځائے په کلام کښې نصيحت کوي ـ وائي

نصيحت

د رذيل سره چې ونۀ کړې ګاونډ
ځان له مۀ تړه په زور د شګو پنډ
اجنبي سړے په کور دننه نۀ کړې
هسې نه چې درله وګوري څۀ ډنډ
ال عيال ته د بنو د لاندې ګوره
انسان نۀ دے چا تړلے په کولنډ ٤

د هر مسلمان او مسلمانې دا فطري او جبلي خصوصيت دے چې دے به خپل اولين او اخرين نبي حضرت محمد صلي الله عليه وسلم سره له حده تېره مينه لري او د خپل خوږ نبي په وصف کښې به خپل ټول صلاحيتونه پکاروي ـ د دير زنانۀ شاعرانو په دې ضمن کښې هم ډېره شائسته او حب رسول نه لبرېزه شاعري کړې ده ـ چې که يو خوا د دوي د عشق رسول ببلکې ګټل کېږي نو بله پلوه د دوي د شعر و سخن د علمي معيار څرګندونه هم کاندي ـ د دير د سيمې زيتون بي بي د حب رسول په حقله وائي :

زر مې کړه نصیب خدایه دیدار د مدینې
نور نهٔ شمه کولے انتظار د مدینې

داسې په دنیا کښې بل یو ښکلے بازار نشته
څهٔ رنګه چې ښکلے دے بازار د مدینې5

هم د غه رنګه د دیر د ادب خېږې خاورې شاعرې سید لیلیٰ جېلانې د نعتیه کلام نه هم د دې سیمې د اعلیٰ او علوي معیار د تخلیق اندازه په ښهٔ ډول سره کېږي -

نعت شریف

د مدینې په طرف تلے مې جانان دے
ځکه مې تلٔه ورته ارمان دے

ځار شم د ښکلي شین ګنبد نه
د پاك نبي ښکلي زیارت نه

چا چې لیدلے وي د خدائے پرې احسان دے
ځکه مې تلٔه ورته ارمان دے٦

د دیر مېرمنو شاعرانو د تصوفي بادې د خمار سره سره د رومانیت د خُمه هم مزې اخستې دي - او د خپل محبوب په جدایۍ کښې ئې د خپل ناقرار ژوند تذکرې د رومانوي شاعرۍ په لار په داسې خوند خوند کړي دي چې په لوستو ئې د بنده تنده ماتېږي - د بي بي زیتون دا اشعار په دې ضمن کښې څومره شکلي رومانوي رنګ لري -

زنه مې وتړه سلګۍ چې مې بې واره نهٔ شي
اوښکې مې اوچې کړه چې جوړ مې په مخ لاره نهٔ شي

زنګون دې مات کړه سر زما ورباندې کېږده اشنا
سر ته مې کښېنه ته چې روح مې نا قلاره نه شي۷

دغه رنګ ددغې سیمې د یوې بلې مېرمن ن م رڼا د رومانویت دا ښکلي شعرونه هم د لوستو وړ دي ـ چې د دوي د فکري بلوغت د خیال د پختګۍ د ښکلو بندشونو اندازه ترې په ښهٔ توګه لګي ـ

په ما دومره زوروردے سام د غم
چې زغملے قدرې نهٔ شم نام د غم

د سرو وینو مې د زړهٔ نه رود روان دے
ربه زر زر کړې تمام ایام د غم۸

د خپلې خاورې خپل وطن سره مینه او عشق د هر انسان په وینه کښې شامل دے ـ هم دغه سوب دے چې د دیر زنانه شاعرانې هم د خپلې خاورې په مینه او عشق کښې د چا نه روستو نهٔ دي ـ که خوشحال بابا وائي :

د وطن مینه اے جانه
راپیدا ده د ایمانه ۹

نو د دیر ننګیالۍ شاعره بي بي زیتون هم په خپله خاوره د سره تېره د خپل پاک وطن بوستان په خپلو وینو تازه کوي ـ وائي

زمونږ په وینو دې تازه شي اوچ بوستان د وطن
یو ځل دې ځار په معشوقې شي عاشقان د وطن

خوېندو د رب دپاره پاڅئ دا دے وخت د همت
وګورئ څومره دي قامونه محبان د وطن ۱۰

د دیر زنانه لیکوالو د ادب په هر صنف طبع ازمائیلې ده ـ د پابندې شاعرۍ د غزل او نظم نه پرته ئې په ازاده شاعرۍ کښې هم ساري نهٔ شي موندے ـ په دې لحاظ د دیر زنانه شاعرانو کښې سائره

شمس چې ګلان تخلص لري ـ په دې لړ کښې د منفرد او ځانګړي حېثيت مالکه ده ـ دوي د خپل تخيل د پرواز دپاره د جديد ازاد نظم لار خوښه کړې ده ـ او تر اوسه پورې کړے سفر ئې ښهٔ تُند چابک او د منزل په لور ښهٔ نيغ دے ـ سائره شمس ګلان د ازاد نظم په بڼه د خپل بابا په مړينې څهٔ داسې مرثيه وئيلې ده ـ

له خپله ربه ګيله
اے زما ربه مهربانه ربه
کاش که يو ځل بيا ئې ورځ د مرګ راولې
ځکه
زړهٔ پرهر پرهر مې پسې بيا خوږېږي
پرېږده يو ځل چې
ورته بيا وژاړم
د ژوند خواهش د بابا
زهٔ اوس کولے نهٔ شم
زړګے مې د بابا غمونو
ډېر دے ستړے کړے ګلي'۱۱

د دير په غېرتي خاوره چې کومو مېرمنو په شعر خپله طبع ازمائيلې ده ـ نو په هغې کښې زياته برخه په مذهبي رنګ کښې ده ـ په دغه مېرمنو کښې د سيده ليلیٰ جېلاني ټول په ټوله شاعري ، نعت ، حمد او په صوفيانه موضوعاتو اړه لري ـ ګو چې د اغلې مېرمن په شاعرۍ کښې د فن په لحاظ فني کمزورتياوې دي خو د الله او رسول سره د بې ځچه مينې په برکت په ساده او روانه ژبه کښې ليک ئې دغه نيمګړتياوې پټې کړي دي ـ لکه وائي :

نظر د داسې چا په ما چې نوم سبحان لري
محبت زهٔ ورسره کوم په ما احسان لري

دا غښ احسان دے په ما چې مسلمانه یمه
احسان شي نور ورسوا څوك چې قوم سیدان لري

د سر نه پښو پورې هم هېڅ کمي راکړې دې نه ده
د مال دولت مې دا زړه تور نه څۀ ارمان لري ۱۲

د دیر په زنانه شاعرانو کښې نیلم ارزو چې یوه تعلیم یافته مېرمن ده ـ ددې اغلې شاعري په فني پیرایه کښې د خپلو جذباتو ، احساساتو او خیالاتو یو ښکلے اظهار دے چې د نني دور د ژوند ټول داخلي او نفسیاتي کېفیتونه ئې په اوستکارۍ سره بیان کړي دي ـ په موضوعاتي لحاظ سره ئې شاعري لکه د بوډي د تال په کڼ رنګونو اډانه لري ـ چې پکښې علامت ، ترقي پسندي ، رومانیت ، وطن دوستي ، قام پرستي ، علم دوستي ښکاره رنګونه دي ـ د نیلم ارزو په شاعرۍ کښې د مقامي لهجې خوږلت او منظر کشۍ د هغې شاعري نوره هم ښائسته کړې او ډول ډول سنګار ئې وربخښلے دے ـ د علم د اهمیت په حقله وائي :

علم پېژني چې څۀ دې علم پوهه ده رڼا ده
علم ژوند لره بنیاد دے علم جرړه د دنیا ده

هم دا علم دے چې زۀ ئې مخلوقاتو کښې افضل کړم
هم دې علم زۀ په تورو تورو دشتو کښې سور ګل کړم

په تعلیم چې منور دي ښۀ په جار په دنیا ګرځي
چې د علم نه منکر دي هغه خوار په دنیا ګرځي ۱۳

نیلم ارزو خپل خیالي جانان د رومانیت په بڼ کښې د خیالونو په تال داسې ځنګوي ـ

نن ځنګوم دې د اوږدو زلفو په تال جانانه
راشه په ناز او مکېز زما د خیال جانانه
راشه د زلفو په ول ول کښې مې ګلاب اوپئیل

رانجۀ مې پورې کړه ښۀ ښکلې شوم سنبال جانانه
په اسمانونو کښې د بخت ستوري دې مۀ لټوه
ما ټک وهلي دغه ټول دي په دې شال جانانه ١٤

د دیر خاوره د علم و ادب زرخېزي او شادابي لري ـ د شعر و سخن په حواله د دیر خاوره د نارینه ؤ سره سره د زنانه ؤ دپاره هم ډېره موزونه ده ـ د تصوف رومانیت ، مذهبي او دیني هر قسمه خیالات او احساسات د دیر د زنانه ؤ شاعرانو د فکر او تخیل د ګلستان رنګینۍ او رعنایۍ دي ـ د خپل وطن د خپلې خاورې سره د مینې او عقیدت په اړه د دیر د زنانه ؤ شاعرانو تخلیقات د ملي او وطني شاعرۍ اعلی نمونې دي ـ د دیر د زنانه ؤ شاعرانو د علوي معیار د شاعرۍ نه ددغې خاورې د علم و ادب د فن او هنر د علویت اندازه لګي ـ

دغه شان د دیر خاوره د یو داسې تحقیق محتاجي هم لري چې د زنانه ؤ شاعرانو یو تفصیلي لټون اوکړې ـ که په دغه هڅه کښې ډېرې نۀ وي نو دومره شاعرانې خو به ضرور په لاس راشي چې د خپل کورني ماحول قدغني نظام او جبري انتظام د لاندې ژوند کوي ـ

## ماخذونه


۱: شمال رضوان الله ناچاپ اثر س،ن مخ 15
۲: شکیب عبدالظاهر، مولوي منهاج او د هغه ادبي کورنۍ، د افغانستان د علوم اکاډمي چاپ 2017ء مخ 76
۳: دیوان عبدالرحمان بابا ، سید رسول رسا ، ۱۹۷۶ء ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ، مخ ۷۳
۴: شوکت کریمن بي بي قلمي مسوده (شاعري) کال او مخ نه لري
۵: بي بي زېتون ناچاپ شاعري
۶: جیلاني سیده لیلٰی، سبحان الله ، یونیورسټي کمپوزنګ، 2015ء مخ ۸
۷: بي بي زېتون ناچاپ شاعري
۸: (ښاغلي ـــــــ د دیر پښتو ادبي ټولنې تذکره) ترتیب شاعر جان ساقي، چاپ 2003، دانش ګتابتون قیصه خوانۍ پېښور، صفحه 161
۹: خټک خوشحال خان ، فراق نامه ، پېښور ، اشاعت اول ۱۹۸۳ء ، مخ ۶۵
۱۰: بي بي زېتون ناچاپ شاعري

۱۱: ګلان سائره شمس یادونه ارمانونه ، د پښتونخوا د پوهنې دېره پېښور ، 2015ء مخونه 75,76
۱۲: جیلاني سیده لیلیٰ، سبحان الله ، مخ 7
۱۳: ارزو نیلم ، د سازونو باران ، اعراف پرنټرز پېښور ، ۲۰۱۸ء ، مخ ٦٣
۱۴: هم دغه اثر ، مخ ١٤٥